

# د رڼا کړکۍ

## د کمپيوټر زده کړه

Ketabton.com

ليکوال:

عبدالستار فيضي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پېژندنه :


لیکوال : عبدالستار فیضي

دلیکولو نیټه: ۱۳۹۰ هجري شمسي –۲۰۱۱ ز

کمپوز : خپله لیکوال

د پښتۍ طرحه: مختار احمد احسان

انلاین چاري: د لراوبر کتابتون

www.Larawbar.com


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یوه کوچني ډالۍ د ریښتین صاحب په دې خلوریځه سره پیل کوم .


| | |
|---|---|
| که مي دا خدمت پښتو لره پکار شي | پښتانه به له ډ خوبـــــه رابیدار شي |
| نو هله به مي محنت و نیسی ځای څه | څه ناڅه به مي زړګی هم په قرار شي |

کمپیوټر یوه داسی آله ده چي حسابونه دقیق، چټک او په ښه ترتیب سره سرته رسوی او ورکړل سوی معلومات معالجه کوی او نتیجه یي دانسان و مخ ته ږدي کمپیوټر په تیرد ریش کلن تاریخ کي ډیر پر مخ تګ کړی دی پـه ډیرو ځایو کي لکـه الوتکو ، کښتـی ، فـابریکو ، ښـوونځي ، پوهنتـون ، بنـک ، دفتربلکی اوس هر څه کمپیوټری سوی دی او په هر ځای کي د کمپیوټر څخه کار اخستل کیږی.

لکه څنګه چي تاسو وینی چي هر څه کمپیوټری سوی دی نو د کمپیو ټر ذده کول هم اړیـن دی ولی چي نن سبا که دچا چي کمپیوټر نه وی ذده داسی دی لکه پخوا چي به څوک نالوستی ؤ .

کمپیوټر یو پراخ علم او فن دی زه به کوښښ وکړم چي و تاسو ته هغه ابتدایی شیان ولیکم چي دهغه ذده کړه دهر چا دپاره ضروری ده .

کمپیوټر عبارت دی دیوه صندوق ، منیټور ، کیبورډ . موږک . او ګویا څخه لکه څنګه چي یی تاسو پـه لاندی عکس کي وینې






لاروبر
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کمپيوټر دلاندي شيانو څخه جوړ سوی دی

**1.**صندوق **Case**:

دکمپيوټر ټول پرزې په لاندی صندوق کي لګول کيږی.



په پورتنی صندوق کي دکمپيوټر پوررزی لګيږي

**2.**(محول )**Power Supply** :

په صندوق کي يوه برقی پورزه (محول ) **Power Supply** لګيږی دا محول دبهر څخه **220v** ولټ

برق اخلی او و **12v**+ **5**. ولټ ته يي اړوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library





(محول **Power Supply**)

دکمپیوټر داخلی پورزی ډیری حساسه دی ژر خرابیږي کله چي وکمپیوټر ته پورزي لګوئ لمړی باید چي دارت **Antistatic wrist pad** تار ولګوئ په لاندی عکس کي دارت تار لیدل کیږي



(دارت دتار عکس)

کله چي تاسو نوی موزربورډ ، کارت... رانیسئ تاسو به وګورئ چي د **Anti static** په پلاسټک کي بند وی لکه تاسو چي موزربورډ په لاندی عکس کي چي تاسو وینئ چي موزربورډ د **Anti static** په پلاسټک کي بند دی.

3ـ مادربورډ **Motherboard**:

(c) ketabton.com: The Digital Library




په مادردبورډ کي ټوله هغه پورزی لګیدلی دي چي یوه پورزه و بلی ته معلومات نقلوی.



(دمادربورډ **Motherboard** لوحه په پلاسټک کي )

**1.**مادربورډ دلوحې څخه پلاسټک لیری کړئ.



**2.**لمړی به په مادر بورډ کي د **Processor** دلګولو دپاره د **Socket** کلپس خلاص کړئ.


**3.** **Microproccessor** دکمپیوټر الکترونی دماغ:


تاسو و عکس ته وګورئ دساکټ په یو کونج کي سوری نسته او دمعالج

(c) ketabton.com: The Digital Library




**Processor** په يوه كونج كي هم ستنى نسته لكه څنګه چي په لاندى عكس كي ليدل كيږي ،دواړه كونجان به سره برابر كړئ ، معالج به كرار په خپل ځاى كي په احتياط سره ولګوئ ډير زور پر ونه كړئ چي ستنى يى كږې نه سى.





د **Processor** لاندى برخه

د **Processor** پورتني برخه



(د معالج **Processor** عكس)

**4.** د ساكټ كلپس بند كړئ.

**5.** د معالج **Processor** دپاسه باد پكه**Fan** ولګوئ. كه دمعالج **Processor** دپاسه باد پكه ونه لګيږي معالج خرابيږي باد پكه دمعالج ديخولو دپاره لګول كيږي .


(c) ketabton.com: The Digital Library






دمعالج دیخولو بادپکه

تاسو په لاندی عکس کی دباد پکی لاندی وینی چي د **Heat Sink** ماده لګول سوی ده که دا ماده ستاسو سره نه وی باید په بازار کي يي رانيسئ. د **Heat Sink** ماده دمعالج څخه تودوخه جذبوی باید پر معالج **Processor** برسره ولګول سی .



(په پورتنی عکس کي د **Heat Sink** ماده ليدل کيږي)


**6.** دبادپکي ترلګولو وروسته به دبادپکي کليپسونه ولګوئ.

بادپکي څو ډوله دی ددې امله دبادپکي دلګولو کړنلاری بيل وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**7.** دبادپکې دبرق تار به په مادربورډ کې ولګوئ ولاندی عکس ته وګورئ.




(په پورتني عکس کې دبادپکې دتار لګولو ځای معلومیږي )

رام ( ذاکره ) **RAM(Random Access Memeory) Memory:**

رامونه معلومات دلږ وخت دپاره ساتی دکار په چټکتیا کې درام ظرفیت لوی رول لوبوی که درام ظرفیت غټ وی کمپیوتر چټک کار کوی کله چې کمپیوټر بند سی درام حافظه خالی کیږی .




درامونو دلګولو کړنلاره یودبل څخه زیات فرق نه لری **SDR SDRAM** و **DDR SDRAM** و **RD RAM**

تاسو په مادر بورډ کې لاندی بڼه **Dual Channel DDR** وینی هم دغه درام دلګولو ځای دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






(درامونو دلګولو ځای )

## هارډ ډیسک H.D.D (Hard Disk Drive):




هارډډ یسک په کمپیوټر کي د معلومات ساتولو آله ده ټول معلومات لکه ویندوز ، میکروسافټ آفیس ، هارډیر ........او ستاسو کار په هارددیسک کي ساتل کیږي.

هارډیسک یوه پورزه ده لاکن تاسو کولای سی چي منطقی یي پر څو برخو وویشئ لکه Cاو D اعنی دوې برخي یا دري برخی لکه C, D, E په Cسره پیل کیږی ستاسو دخوښی سره سم یي تاسو ویشلای سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(دکمپیوټر په صندوق کي دهارډ ډیسک دلګولو ځای )

## دپلوفی ډیسک: F.D.D (Floppy Disk Drive)

دپلوفی ډیسک ډریور پر پلوفی باندی دکار ساتولو وړتیا لری.

پلوفی د ډیر لږ کار دساتولو وړتیا لری پلوفی دکار ساتولو ظرفیت **1.44MB** دی

اوس یی خلک ډیر لږ استعمالوی.




**(Floppy Disk Drive)**



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library






(**Floppy**)

## :CD -ROM (Read Only Memory)

سيډي روم دسي ډي دليزرې فيتو دلوستلو او او پر سي ډي باند يد كارساتلوو ړتيالري.

هارډيسک ، پلوفي ډريور او سي ډي ډريور په برقي تارو **Data Cable** دمادر بورډ سره وصل كيږي

## دمينوټور كارټ **VGA Card**:

دا كاټ دمينوټور دچلولو كاروركوي چي د **AGP t** په **Slot** كي لګول كيږي.




(دمينوټور كارت)

## **Sound Card** داواز كارټ:

داواز كارت دكمپيوټر څخه داواز دراايستلو كار وركوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





کارت شبکه:

که داخلی شبکه کاروئ نو بیا د شبکې کارت وکمپیوټر ته ولګوئ.



(کارت شبکه )

موډیم**Modem** :

دانټرنټ داستعمالولو دپاره باید په کمپیوټر کی موډیم **Modem** .

(c) ketabton.com: The Digital Library




موډویم دوه ډوله دی یو یي په کمپیوټر کي لګیږي او بل یي خارجی ویرلس موډیم دی



(خارجی موډیم)

د کمپیوټر نوری پورزي **Ports**:



(c) ketabton.com: The Digital Library



(په پورته عکس کي دتارونو دلګولو ځایونه)





مونیټور **Monitor**

کیبورډ **Keyboard**








موږک **Mouse**

سفیکر **Speakers**





LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي وکمپیوټر ته ټوله اړینی پورزی ولګول سی پورزی په کمپیوټر کی کار نه کوي تر څو چي تا سو د کمپیوټر د پرزو د پیژند ګلوی سی ډی وروانچوي او اړینه پورزه وکمپیوټر ورونه پیژندل سی.

دهری پورزې سره دهغې پورزې د پیژندلو سی ډی وی په هغې کي د پورزی د چلولو پروګرام وی کله چي نوموړی پروګرام وکمپیوټر ته داخل سی هغه پورزه په کمپیوټر کی کار کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## دکمپیوټر دچالانولو کړنلاره

**1.** وګوره ټول تارونه وکمپیوټر ته سم لګول سوي دي.

**2**- دکمپیوټر دچالانولو سویچ **(Power)** کښیکاږه چي کمپیوټر چالان سی.

**3.** دمینو ټور دچالانولو سویچ هم کښیکاږه چي مینوټور روښانه سی.

**4.** انتظار وکړه چي دکمپیو دچالانولو نظام پای ته ورسیږي او پر سکرین باندی سکرین **(Desktop)** ښکاره سی لاندی عکس ته وګورئ.




دلته په **Desktop** باندی ستاسو ډیر څه تر سترګو کیږی

❋**My Computer**

❋**My Network Places**

❋**Recycle Bin**

(c) ketabton.com: The Digital Library



※Internet Explorer

※My Documents

او د نورو پروګرامونو اختصار ليدل کيږي وروسته به خپله ورسره بلد سی.

تاسو لاندی يوه پټه Task Bar وينئ چي په هغې کي لاندی شيان نويشته دی:




1 - Start شروع (پيل) ددې ځای څخه تاسو وپروګرامونو ته داخليدای سی.

2 - Time وخت

3 - EN انګليسی يا PA پښتو دليکولو ژبه ده .

راځئ چي کيبورډ او په کيبورډ کي دځينو تنيو کار او وظيفه وپيژنو .



**Key board**

**ESC** تنۍ حالی کار دروی (که يو پروګرام چالان وی) نوموړی تڼۍ کنبيکاږی هغه پروګرام دريږی.

**Tab** دټاب تنۍ په جدول کی ديوې خانې څخه اشاره وبلی خانی ته بيايی .

**Caps Lock** دانګليسی کوچني توری وغټ ته او غټ توری وکوچنيو تورو ته اړوی.

**Shift** لوړ (په کيبورد کي لاندی او لوړ توری دی که Shift ونيسی لوړ توری ليکل کيږی.

**Enter** ديوه کار دتنفيذ امر دی او دليکو په وخت کي و بلی ليکی ته اشاره کښته کوی.

**DELETE** دحذف يا پاکولو کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Num Lock** دحساب دماشی د استعمال په وخت کارول کیږي.

**Alt+ Shift** که واړی تڼی په یو وار کښیکښل سی **EN** انګلیسی و **PA** پښتو ته اړوی.

موږک **Mouse**:



دموږک دښی تڼی وظیفه: دمساعد یا ملګری وظیفه اجرا کوی.

دمږک دچپی تڼۍ وظیفه:

- دښکاره کولو وظیفه اجرا کوی.
- دټاکولو وظیفه اجرا کوی.
- ډبل کلیک دتنفیذ او خلاصولو وظیفه اجرا کوی.
- که دموږک چپ تڼۍ ټینګه ونیول سی او وبلی خوا ته اشاره کش سی لیکه یا جمله ټاکل کیږی.


## د کمپیوټر بندول

کمپیوټر باید په لاندی بڼه بند سی.


**1.**پر **start** باند کلیک وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library






2- پر Turn off Computer کلیک وکړه وتاسو ته به یوه کړکۍ خلاصه سي




4 - Turn off وټاکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کیبورډ دتڼیو مختصر امرونه په لاندی ډول دی

دټول خط ټاکی **A** او **ctil**

ټاکلی خط لمبسه کوی **c** او **ctil**

لمبسه سوی سرینښ **paste**وی **Ctrl + V**

ټاکی غچی کول **Ctrl + X**

شاته تګ ( هغه څه چي دی ولیکل بیرته پاکول )**Ctrl + Z**

چاپول **Ctrl + P**

ددوتنه **file** خلاصول **Ctrl + O**

دکړکی بندول **Ctrl + W**

دانټرنټ پاڼه په **pavorites** کي ساتل **Ctrl + D**

دجملې لټول **Ctrl + F**

د **pavorites** ترتبول **Ctrl + B**

دخپل کار ساته **Ctrl + S**

اشاره وچپ خواته بیول **Ctrl + Shift**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشاره وښی خواته بیول **Ctrl + Shift**

خلاصه کړکۍ تړل **Alt + F4**

دیوی کړکۍ څخه وبلی ته تګ **Alt + Esc**

که چیری ډیری کړکیانی خلاصی وی غواړی چدهغو څخه ویوې ته ولاړ سې **Alt + Tab**

انګلیسی ژبه وپښتو ته اړول **Alt + Shift**

ددوتنه نوم چټک بدلول ملف**F2**

دیوې دوتنی لټول **F3**

دهغه ځای ټاکل چې ته يي غواړې **F4**

دټاکلی ځای تحدیث**F5**

په ارامه سره پاڼه کتل **Space**

شاته پاڼه کتل **Backspace**

ټوله لیکلی ټاکل **Shift + E (End)**

دیوشی چی ته يي نه غواړی ژر پاکول ( حذف ) **Del (Delete)**



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کمبيوتر څخه ديو شی بيخی پاکول **Shift+Del**

لوړې صفحې ته تګ **PageUp**

کښته صفحې ته تګ **PageDown**

ديوه ټاکی ځای لمبسه کول **Ctrl+In(inset)**

دلمبسه سوی سرېښ **paste**ول **Shift+In(inset)**

په نوم سره ساتل **F12**

دوتنه **File**ساتل **Shift + F12**

تر چاپ مخکی دکار معاينه کول **Ctrl + F2**

غبرګ قوسونه **{ }**ليکل **Ctrl + F9**

(c) ketabton.com: The Digital Library




# کټور معلومات

سوال: غواړم دمیکروسافټ افس ژبه بدله کړم؟

ځواب : و start بیا و all programs <– micosoft office <-- micosoft office <-

micosoft office 2007 اعداد الغه





وتاسو ته یوه کړکۍ خلاصه سی کومه ژبه چې تاسو غواړي هغه وټاکئ .

کمپیوټر ریستارټ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






کمپیوټر ریستارټ کړئ.

سوال: غواړم په کمپیوټر کي د وینډوز ژبه د انګلیسی څخه وعربی ته بدله کړم؟


ځواب: و **start** بیا و **all programs** - < **control panel** ته ولاړ سه وتاسو ته به لاندی کړکی خلاصه سی **eregional Languag options.** وټاکه




(c) ketabton.com: The Digital Library



وتاسوته به یوه بله کړکۍ خلاصه سی **Languages** وټاکه




ولاندی عکس ته وګورئ ستاسو دخوښی سره سم ژبه وټاکئ




**Apply** او وروسته پر **OK** کلیک کړئ کمپیوټر ریستارټ کړئ .

سوال: چاپ مشین مي وکمپیوټر سره وصل کړی کار نه کوی نه پوهیږم چي ولی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library




ځواب: ستاسو کمپیوټر چاپ ماشین نه پیژني دچاپ ماشین و کمپیوټر ته په لاندی بڼه وروپیژنه

1ـ دچاپ ماشین د کمپیوټر سره وصل کړه.

2- دچاپ ماشین سی ډی په سی ډی روم کي کښیږده.


1 - و start بیا و all programs– > control panel ← printers and faxes وټاکه



وتاسو ته یوه کړکۍ خلاصه سی add a printer وټاکه

(c) ketabton.com: The Digital Library






پر Next باندی کلیک کړه .




کمپیوتر د چاپ ماشین په پروګرام پسی ګرځی تر څو چي اړین پروګرام واخلی یوه بله بڼه یي وروسته وتاسو ته راځی هغه هم مه هیروئ.

سوال : کله چي دوړه دوتنه خلاصوم ژر نه خلاصیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




ځواب: کمپیوټر باید په میاشت کې یووار اصلاح سی .

کمپیوټر په هارډیسک دوتنی په مختلفو ځایو کې ساتی، یو دبله څخه لیری وی یا تاسو کوم شي ساتلی وی وروسته یې پاک کړی ددوتنو تر منځ زیاته فاصله پاته سی. ددې دپاره چې دوتنی یوه دبل وڅنګ ته نزدې وی او کمپیوټر هم چټک سی باید په څو ورځو یا میاشت کې یو وار دا کار وکړئ.

و **start---->all programs--->accessories--->system tools----->Disk Defragmenter**


"تحلیل **analyze** " وټاکې لږ څه انتظار وباسئ تاسو به ګورئ چې دوتنی خوری وری پرتې دی او په منځ کې ډیر واټن( سپن ځای ) دی.




ولاړسئ یوه کړکۍ به درته خلاصه سی کوم دیسک چې تاسو غواړئ تحلیل یې کړئ **C , D , E** هغه به وټاکئ او پر **Defragmenter** کلیک وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






" **Defragment**" وټاکي  کمپیوټر پریږدي چي ټول دوتنی یوه وبلی نژدی کښیږدي.

سوال: زه کولای سم چي وکمپیوټر ته نوي پورزي لکه موډیم ، داوازکارټ کیمرا .... ولګوم د حارډویر ستونزه یې څنګه حل کړم ؟

ځواب: وکمپیوټر ته چي نوی پورزه ولګول شی مودیم ، داوازکارټ ...... دهغی پرزې سره دپرزې دحارډروير خپله **CD**وی


سی ډی په سی ډی روم کی کښیږدئ کمپیوټر ریستارټ کړئ

په **MY compute** دموږک ښي تڼی کښیکاږئ خصائص **properties**


وټاکئ یوه کړکی به درته خلاصه شی **Hardwars** او بیا **Device Manaer** وټاکه

(c) ketabton.com: The Digital Library








تاسو ته به یوه کړکۍ خلاصه شي دنوموړی پرزې



(c) ketabton.com: The Digital Library







(c) ketabton.com: The Digital Library







(c) ketabton.com: The Digital Library











(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library




اوس نو ستاسو کمپیوټر هغه پورزه وپیژندله.

سوال: دزېږيد (میلادی) نیټه وهجری قمری نیټې ته څنګه واړوم؟

ځواب: **Control panel** ته ولاړ شه **Regional and language options**





وتاته به یوه کړکۍ خلاصه شي




**Customize** وټاکئ وتاسو ته یوه بله کړکۍ خلاصه سی.


(c) ketabton.com: The Digital Library






پر Date

باندی د موږک چپ تنۍ کښیکاږئ و تاسو ته به کلیزی ښکاره سی




ستاسو دخوښی کلیزه وټاکئ وروسته پر





Apply او بیا پر OK د موږک چپ تنۍ کښیکاږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library




سوال: په کمپیوټر کې ساعت وخت او نیټه څنګه سمه کړم؟

ځواب: کوم ځای کې چې وخت معلومیږی پر هغه باندې دموږک ښی تنۍ کښیکاږی




دنیټې اووخت سمول وټاکئ وتاسو ته به یوه کړکۍ خلاصه شی کال ، میاشت ورځ او وخت به سم کړی
.





**Apply**او **Ok**به وټاکې


په لاندې کړکۍ کې **Time zone** وټاکه .

(c) ketabton.com: The Digital Library






او خپل ښار **Apply** او **Ok** به وټاکي دانټرنټ وخت په لاندی کړکۍ کې افډيټ کيږي.




**Apply** او **Ok** باندی به د موږک چپ تنۍ کښیکاږی.

سوال : د میکروسافټ په پروګرامونو ( ورډ او اکسیل ) کي عدد ( شماره ) انګلیسی ده غواړم وپښتو ته یي واړوم .


ځواب: و **Control panel** ته ولاړ شه **Regional and language options**




(c) ketabton.com: The Digital Library



وټاکئ وتاسو ته به یوه کړکۍ خلاصه سي.




Customize وټاکئ وتاسو ته یوه بله کړکۍ خلاصه سي د




د Digisubstitution په خانه کې به ستاسو دخوښۍ سره سم وټاکی Apply او Ok باندی به د موږک

چپ تڼی کښیکاږی. کمپیوټر ریستارټ کړئ عدد به بدل سی.


(c) ketabton.com: The Digital Library




سوال : دخپل کمپیوتر په اړه معلومات څنګه مالوم کړم ؟

ځواب:

1 - **Start**
2 - **Run** وټاکه وتاسو ته به یوه کړکۍ خلاصه سی **dxdiag** ولیکئ.




او **OK** کلیک کړئ وتاسو ته به یوه کړکۍ خلاصه سی په هغې کي به ستاسو دکمپیوتر معلومات لیکلی وی .



(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال :په يو كمپيوټر كي وينډوز ددې وړتيا لرى چي څونفره يي استعمال كړى او هر يو يي وځان حساب ولرى.

ځواب: هو يوه يكمپيو ټر كى څو نفره هريو ځان ته په لاندى بڼه حساب جوړولاى سى .

په وينډوز اكس فى كي دوه ډوله حسابونه دى دهر حساب وړتيا دبل څخه توپير لرى.

حساب ( **Administrator** ):

**Administrator** دا حساب دوينډوز دټولو برخو داستعمالولو وړتيا لرى كولاى سى چي پروګرامونه انسټال او پاک كړي او كولاى سى چي دكمپيوټر داستعمالونكو وحسابونو ته داخل سى او دكمپيوټر وټولو برخو دوتنو او دوسيو ته داخل سى.

حساب ( **Limited** ) :

دا ډول حساب لرونكى د **Administrator** په بڼه نه دى بلكى دكمپيوټر وهغو ځايو ته ننوتلاى سى چي خاص دده دپاره مخصص دى په كمپيوټر دنورو وحساب ته نسى داخليداى او دپروګرام د انسټال او پاكولو صلاحيت هم نه لرى.

حساب ( **Guest** ) دميلمه حساب:

دا حساب لرونكى كمپيوټر استعمالاى سى لاكن دپورتني دوو حساب لرونكو وكار ته نه سى داخليدلاى.
دحسابونو داستعمال دكړكې تشريح:

**1**.و( **Start** ) ولاړسې بيا و **Control Panel** او **User Accounts** وټاكى وتاسو ته به يوه كړكې خلاصه سى.

په دې كړكې كي تاسو درې شيان وينئ


* **change an account**

* **Creete anew account**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**change the way user log anor off** ❋





دنوی حساب دپاره لاندی کړنلاره تعقیب کړی.


لمړی **Creete anew account** وټاکه وتاسو ته یوه کړکی خلاصه سی به خانه کي نوم ولیکه او پر **next** باندی کلیک کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library






وروسته د حساب بڼه وټاکه





د موږک ښي تڼۍ پر **create account** باندې کليک کړه.

دپاسورډ بدلول:

که حساب لرې د حساب بدلولو دپاره **change an account** باندې کليک وکړې وتاسو ته يوه کړکۍ خلاصه سي دلته تاسو کولای سي خپل حساب کې ستاسو خوښي (نوم ، پاسورډ ، ....) بدل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library






که پاسورډ بدلوئ تاسو پر **chang my password** دموږک په شي تڼۍ لیک وکړی

وتاسو ته به لاندی کړکۍ خلاصه سی

په اوله خانه کي ستاسو زوړ پاسورډ او په دوهمه خانه کي نوی پاسورډ په دریمه خانه کي هم نوی پاسورډ دوهم وار ولیکئ دلته ستاسو یوه جمله ولیکئ داسی جمله چي ستاسو نه هیریږی پر **change password** باندی کلیک وکړئ

اوس ستاسو پاسورډ بدل سو تاسو کولای سی نوی پاسورډ استعمال کړئ.

دحساب پاکول:

مخکی تر دي چي حساب پاک کړئ دخپل کار یوه نسخه پر سی ډی یا په **usp** باندی نسخ کړئ.


دحساب پاکول یوازی او یوازی **Administrator** کولای سی چی حساب پاک کړی.

و **My Computer** ته ولاړ سه د ( **C** ) وټاکه او ( ******** **s and Settings** ) وروسته دادری پیلونه ( **Desktop** ) ( **Favorites** ) ( **My ********s** ) نسخ کړه په **usp** کي دځان سره وساتئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته تاسو لاندی کړکۍ خلاصه کړئ **change an account** باندی کليک وکړئ




په پورته کړکۍ کي به نوم وی چي تاسو غواړي هغه پاک کړئ پر هغه کليک کړه


وتاسو ته به يوه کړکۍ خلاصه سی **delete the account** باندی کليک وکړه

وتاسو ته يوه بله کړکئ به خلاصه سی پر **delete the account** دموږک ښی تنۍ کليک کړی حساب به پاک سی.

سوال: زه چي په کمپيوټرکي د C ديسک فورمات کړم بل وار وينډوز ورواچوم کمپيوټر راته ليکی چي نوموړی نسخه اصلی نه ده ؟

ځواب: مخکې تر دې چي کمپيوټر فورمات کړی زما يو څو خبری په غوږ کي ونيسه هغه دا چي :

و **My Computers** ته ولاړ شه




د سستم **32** دوسيې ته ځان ورسوه

(c) ketabton.com: The Digital Library






هلته به **wpa.dbl** او **wpa.bak** فایلونه پیدا کړی تر پیدا کولو وروسته به په بل ډیسک ( **D, E,** یا **F** کي خوندی کړی .

کله چي کمپیوټر فورمات شو او نوی ویندوز دي انستال کړی د **Sav Mod** دلاری کمپیوټر چالان کړه هغه فیلونه چي تا ساتلی وه دهغو نوم بدل کړه **wpa.dbl.n1** او **wpa.bak.n1** ته واړوه اوس یې بیرته په هم هغه دوسیه ( سستم **32** ) کي کنبیږده








اوس نو ستا ستونزه هل شوه ٠


سوال: کمپیوټر مي راته لیکي چي ستا دوینډوز اصلی نه دی






(c) ketabton.com: The Digital Library







ستا دوینډوزلمبسهه اصلی نه ده **Electronic License Key Offer**


ځواب: کوم تحذیر چي کمپیوټر درکوی نو ته دا لاندی ادا دانټرنټ څخه وکمپیوټر ته را کښته کړه **Remover**




سوال: زه غواړم چي د **Windows Xp** اوتومات افډیټ **Automatic Update** بند کړم

ځواب: پر **My Computer** د موږک ښی تڼی کښیکاږه




(c) ketabton.com: The Digital Library



Properties وټاکه یوه کړکۍ خلاصه شي




Automatic Update څخه به

Turn off automatic update واړوئ Apply < OK تنۍ به کښېکاږي.

سوال: کمپیوټر چې مې چالان شي safe mode وي؟

ځواب: وروره وینډوز ته safe mode له لارې داخل شه کوم پروګرام چې تاسو وکمپیوټر نوی اچولی هغه حذف کړه د سک سکین کړه scandisk او کمپیوټر ریستارټ کړه.

restart کله چې کمپیوټر په چالانیدو پیل وکړي F8 تنۍ ژر ژر وهه خیال کوه چې د کیبورډ تنۍ ماته نه کړې کله چې یوه پاڼه درته خلاصه شي.

safe mode

(c) ketabton.com: The Digital Library



............

...............


...............

NORMALوټاکه او انټر Enterتڼۍ کښیکاږه.


ستاسو کمپیوټر به نورمال چالان شي

سوال: دکمپیوټر څخه ساپټویر ځنګه دبیخه څخه پاک کړم او یا هغه ساپټویر چې دکمپیوټر څخه نه پاکیږی ځنګه پاک کړم ؟

ځواب: و Start ته ولاړشه run وټاکه





درن په کړکۍ کې regedit ولیکه ok




وتاسو ته به دریجستری کړکۍ به درته خلاصه شي


(c) ketabton.com: The Digital Library







د Find < Edit په واسطه دسافتویر پاته شونی پاک کړئ

Edit وټاکه او Find واخله





وتاسو ته به یوه کړکۍ خلاصه شي کوم سافټویر چې تاسو یې پاکول غواړی دهغه سافټویر نوم ولیکه




(c) ketabton.com: The Digital Library




لکه په پورتنی انځور کې **find Next** واخله وتاسو ته دسافټویر نوم په لاندی کړکۍ کی به وبنی خواته شکاره پر هغه




هغه به **delete** کړئ





د **F3** تنۍ کنبیکاږی ترخو چې دنومړی سافټویر پاته شونی تول حذف شی




(c) ketabton.com: The Digital Library






دپام وړ: نوموړی انځور دوینډوز دپاته شونی دی تاسو دخپل سافټویر لټون ترهغه کوی ترڅو لاندی لیکل شوی کمپیوټر درته ولیکی




اوس نو ستاسود سافټویر ریجیستری ټوله پاکه شوه ٠

سوال: په کمپیوټر کي دسکرین څخه عکس څه ډول اخستل کیږی ؟

ځواب:که غواړی دسکرین څخه ټول عکس واخلی **PRINT SCREEN** تڼی کښیکاږه درسام وپروګرام ته ولاړ سه **Edit** او وروسته **Edit Paste** سرېښ **paste** کړه.

او که غواړي چي دسکرین څخه ستاسو دټاکلی شی عکس واخلي
**Alt + PRINT SCREEN** تڼی دواړی کښیکاږه درسام وپروګرام ته ولاړ سه **Edit** او وروسته **Edit Paste** سرېښ **paste** کړه.

سوال: کله چي کمپیوټر بند کړم بل وخت یي چالان کړم نیټه او وخت ډیر زوړ وی.

ځواب:د کمپیوټر په مادربورډ کی یوه پیټري لګیدلی وی نوموړی بیټری دا وظیفه لری کله چي کمپیوټر بند شي ، ساعت ، کلیزه اوشیفر ساتی که بیټری ختمه شوی وی نیټه به ډیره زړه 2001 یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



2002 ......... وي هر وخت چې کمپيوټر چالان کړی بايد چې نيټه. مياشت ، کال او ساعت نوی وليکي تر څو چې دزړې پيټري پر ځای نوی بيټري لګوی دا سی ډير پيښيږی چې کمپيوټر چالان کړی هير مو شی نيټه او ساعت بدل نه کړی په کار پيل وکړي دبيلګي په ډول غواړی په انټرنټ کې د بنک حساب ګورئ هغه به وتاسو ته زوړ معلومات درکوی يا به تاسو وکمپيوټر ته کوم پروګرام اضافه کړی وی هغه به کار نه کوی چې دا دزياتی پريشانی لامل ګرځی

سوال : مونيټور Monitor بوی کوی ؟
ځواب : سکرين خيرن شودی خاوری دوړی پر پرزو پرتی دی پاک يې کړه که د مونيټور Monitor ضمانت نه وی ختم شوی وشرکت ته مراجعه وکړه ۰

سوال: عکسونه ريږدی ؟
سوال ځواب : ټول ستونزه دبرق په تار کی دی دبرق تار ومونيټور Monitor ته سم نه دی لګيدلی ۰

سوال: چې کمپيوټر چالان کړم لس يا شل دقيقې هيڅ نشم لوستلای؟
ځواب: کمپيوټر د دوړو او ګرد ځخه ډک دی پاک يې کړه کومه بادپکه چی په مادربوډ کی لګيدلی ده هغه هم پاکه کړئ تر بادپکې لاندی يوه المونيوم ټوټوه ده هغه هم پاکه کړه۰ ډير پام به کوي چې معالج دخپل ځای ځخه ونه ښوروئ.

سوال: دکمپيوټر حارډيسک اواز کوی ؟
ځواب: ستونزه دبرق په تار کې ده که هغه سم لګيدلی وی نو به کومه پورزه خرابه سوی وی هغه بدله کړه ۰

سوال: کمپيوټر کې می نيټه ، وخت سم نه دی ؟
ځواب : CMOS بيټری ختمه شوی ده نوی بيټری ورواچوه۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال: لیکلی **General Failure Reading Drive C ?** نه پوهیږم څه دی.
ځواب: خدای دزړه صبر درکړی ستونزه په حارډسک کې ده خپل معومات دی ژر وبل حارډسک ته نقل کړه 0

سوال **:** کمپیوټر مې دویندوز څخه دوتولو او داخلیدولو په وخت کې اواز کوی ؟
ځواب **:** کمپیوټر ګرمیږی بادپکه یې وګوره یا یې بدله کړه ۰

سوال: کمپیوټر مې لږ وخت وروسته پخپله بند شی ؟
ځواب: کمپیوټر سم دی لاکن پر کمپیوټر لوډ زیات دی یابه ستونزه په **SOFTWARE** کې وی ۰

سوال: مونیټور **Monitor** لږ وخت وروسته اواز کوی ؟
ځواب: دمونیټور **Monitor** په کومه پرزه کې ستونزه ده دمونیټور **Monitor** ضمانت وګوره که یې وخت پاته وی شرکت ته یې ورښکاره که چې نوی پورزه درواچوئ ۰

سوال: کله چې کمپیوټر چالان کړم یو اوږد شفیلق اودوه لنډ شفیلقونه ووهي ؟
ځواب: د **VGA** کارټ په خپل ځای کې نه دی لیګدلی سم یې ولګوئ۰

سوال: کمپیوټر مې بند بند شفیلق وهی ؟
ځواب: رامات **RAM** سم نه دی لګیدلی رام په خپل ځای کی سم ولګوه ۰

سوال: دسکرین رنګ شین دی او لیکلی دی ؟

**Stop 0x0000001E**
**KMODE_EXCEPTION_NOT_HANDLED**

ځواب: ستا کمپیوټر وایې چې ویندوز د ډریورسره موافق نه دی که تاسو په نژدی وخت کی کوم ډریورلګولی وی دهغه پر ځای داسی ډریور درواچوئ چې دویندوز **XP** سره موافق وی که تاسو کوم نوي ډریور نه وی لګولی نو به ستاسو دکمپیوټر دنظام پیلونه په ویروس ککړ شوی وی انتی ویروس


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



وچلوه چې کمپیوټر دویروس څخه پاک سی.

سوال : دسکرین رنګ شین دی او لیکلی دی ؟

**Stop 0x00000024**
**NTFS_FILE_SYSTEM**

ځواب: ستا کمپیوټر وایې تاسو چې کوم ډریور وکمپیوټر ته اضافه کړی نوموړی ډریور د وینډوز **XP** سره موافقت نه لری تاسو داسی ډریور ورواچوي چې دوینډوز اکس **XP** سره موافق وی.

سوال: دسکرین رنګ شین دی او لیکلی دی ؟

**Stop 0x00000024**
**NTFS_FILE_SYSTEM**

ځواب: نوموړی ستونزه د دنظام **NTFS** دپیلونو څخه وی اوکله هم دې ته ورته لیکنه وی خو په پای کی یې 32 لیکلی وی چې دا خاصیت **FAT32** دنظام دپیل دی دنوموړی ستونزی دلری کولو دپاره ده دغه پیل **chkdsk.exe** له لاری سمیږی او باید دکمپیوټرد پرزو تارونه هم وکتل شی چې سم لګیدلی دی که نه

سوال: دسکرین رنګ شین دی او لیکلی دی ؟

**Stop 0x0000003F**
**NO_MORE_SYSTEM_PTES**

ځواب: نومړی ستونزه **Backup** دغلط استعما ل څخه منځ ته راځی کمپیوټر **System Restore** کړه

**Start Menu**> **All Programs**> **Accessories**> **System Tools**> **System Restore**

که تاسو کوم پروګرام وکمپیوټر ته واچوی په کمپیوټر کې ستونزه پیدا شی کمپیو ټر **System Restore**کړی

کمپیوټر به بیرته پخوانی حالت ته په لاندی تګلاره سره واړوی

**Start Menu- 1**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**All Programs- 2**
**Accessories-3**
**System Tools-4**
**System Restore- 5**

سوال: کمپیوټر مې یو اوږد شفیلق یو لنډ او بیا درې ځله پرلپسې لنډ شفیلقان ووهي ؟
ځواب: د **CMOS** بیټری چارج ختم شو بیټری نوې ورواچوه.

سوال: کمپیوټر مې خبر راکوي وايې په ذاکره کې ستونزه ده ؟
ځواب: ته **RDRAM** او **SDRAM** سره وګوری یو ډول دی او تیزی (سرعت) یې سره برابر دی که نه.
سوال: یوه نښه می تر سترګو کیږی ******** نه پوهیږم چې څه دی ؟
ځواب : که بیټری نوی وی او بیا هم نیټه ، ساعت بدلیږی پر خپل حال نه پاته کیږی نو د **CMOS** ذاکره بدله کړه.
سوال: کمپیوټر راته لیکي
**DISK FAILURE INSERT SYSTEM DISK AND THEN PRESS ENTER ?**
ځواب: ګوره وروره لمړی به د **DATA** او **POWER** د هارډسک تارونه وګوره که بیا هم پورتنی جمله لیکی نو تاسو وینډوز انسټال کړی که تر وینډوز انسټالولو وروسته هم پورتنی جمله درته لیکل شوی وی ستاسو د کمپیوټر هارډستک خراب شوی دی نوی هارډسک ورواچوی.

سوال: زما کمپیوټر ته چې سی ډی واچوم څو ځله یې لولي ؟
ځواب: ستونزه په **CD-ROOM** کې ده کله کله پر عدسه باندی دوړی پرتې وی کمپیوټر سی ډی نشی پیژندلای کمپیوټر ویو کس ته چې د کمپیوټرپه پرزو ښه بلد وی ښکاره کړه.

سوال **CD-ROOM** : نه خلاصیږی او نه بندیږی ؟
ځواب: ستاسو **CD-ROOM** خلاص ؤ تاسو په هغه باندی تکیه کړی وه مات شوی دی. که مات سوی نه وی په **CD-ROOM** روم کي يو کوچني سوری دی په هغه سوری سنجاق ننباسه او د **CD-ROOM** د خلاصولو تنۍ هم کښیکاږه**CD-ROOM** به خلاص سی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال: دموږک اشاره حرکت نه کوی ؟
ځواب: دموږک تار سم نه دی لګیدلې یا موږک خراب شوی دی
لمړی دموږک تار سم ولګوه کمپیوټر ریستارټ کړه که بیا هم دموږک اشاره حرکت نه کوی موږک خلاص کړه پاک یې کړه.

سوال: دکیبورډ لړ یا ډیری تنې کار نه کوی ؟
ځواب: دکیبورډ تار سم نه دی لګیدلی یا کیبورډ خراب شوی دی
لمړی دکیبورډ تار سم ولګوه دخاورو او دوړو څخه یې پاک کړه کمپیوټر ریستارټ کړه
سوال: دکمپیوټر سکرین نه روښنانه کیږی ؟
ځواب: مونیټور **Monitor**ته برق نه رسیږی لمړی دبرق تارونه وګوره سم یې ولګوه کمپیوټر ریستارټ کړه.

سوال: دکمپیوټر په مونیټور **Monitor** کې برق شته کار نه کوی او دوه واره شفیلق ووهی ؟
ځواب: دمونیټور **Monitor** کارټ په خپل ځای کې سم نه دی لګیدلی پر خپل ځای یې سم ولګوه.

سوال: مونیټور **Monitor** روښاني ولاړه ګروپ یې مړ شو ؟
ځواب: دمونیټور **Monitor** څخه برق قطع شو دبرق تارونه وګوره.

سوال: مونیټور **Monitor** عکسونه تور ښکاره کوی ؟
ځواب : یابه عیب په سرکین وی یا به عیب دمونیټور **Monitor** په کارټ کې کمپیوټر بند کړه او مونیټور **Monitor** چالان کړه که چیری مونیټور **Monitor** نه ریږدي عیب دمونیټور **Monitor** په کارټ کې دی که ریږدیدي نو عیب په مونیټور **Monitor**کې دی.

سوال: په کمپیوټر رام **Mb128** لګیدلی دی خو هغه **Mb 46** ښکاره کوی ؟
ځواب: رام په بل کمپیوټر کې وګوره که بیا هم ستونزه حل نشوه رام بدل کړه
نوټ: نن سبا باید لږ ترلږه رام **Mb256** وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال: کمپیوټر مې پخپله ریسټارټ شي ؟
ځواب: ستونزه لویه ستونزه ده کیدای شی چې مزربورډ ، رام یا پاورسلای دروسوځي دا ستونزه یاخوبه دکور برق ضعیف وی تاسو باید **stabilizer** ولګوی چې برق **220** ثابت پاته شی او بل لامل کیدای شی چې با دپکه سمه نه وی لګیدلی اودریم لامل که پاورسپلای کمزوری ده دنوو کمپیوټرونو دپاره باید **400** واټه پاور سپلای ولګیږی٠

سوال: کمپیوټر ووینډوز ته نه داخلیږی راته لیکې **disk boot faileur** څه حل یې شته ؟
ځواب: کمپیو ټر ریسټارټ کړه **F8** تنۍ ژر ژر وهه کله چې وضع آمن ته ننوزي **last known good** وټاکه انټر تني کښیکاږه که ووینډوز ته داخل شوی ښه که نه نو وینډوز انسټال کړه

سوال: کمپیوټر ووینډوز ته نه داخلیږی راته لیکې **keyboard controller faileur** څه حل یې شته ؟
ځواب: دکیبورډ تار سم نه دی لګیدلی کمپیوټر بند کړه دکیبورډ تار سم ولګوه کمپیوټر چالان کړه٠


سوال: کمپیوټر چي چالان کړم ډیر وخت په بر کي نیسی .

ځواب: باید هغه پروګرامونه په کمپیوټر کې ځای پر ځای سی چې وهغه څوک ته اړتیا لری٠
په کمپیوټر کې تاسو **WinAmp, RealPlayer** ، **NetMeeting, MSN Messenger, Net2Phone** پروګرامونه لری نوموړی پروګرامونه دکمپیوټر دچالانولو سره سره اوتوماتیک چالانیږی ددی وجهی نه کمپیوټر ژر نه چالانیږی٠
که غواړی چې په کمپیوټر کې وینډوز**Windows** سم کار وکړی او دا پروګرامونه اتومات چالان نه سی او غواړی د ځینو پروګرامونو اتومات چالانیدل بند کړی په لاندی کړنلاره سره هغه بندولای شی :

**Start** ته ولاړشه **run** وټاکه درن په کړکۍ کې **Msconfig** ولیکه **ok**


(c) ketabton.com: The Digital Library






تاسو ته به یوه کړکۍ خلاصه شي.

په نوموړې کړکۍ کې به و **Startup** ته ولاړ شی هلته چې کوم پروګرامونه لکه **WinAmp, RealPlayer NetMeeting, MSN Messenger, Net2Phone** کوم پروګرامونه چې تاسو نه غواړی چې هغه اتوماتیک چالان شی د صح اشاره پاکه کړی




خو پام به مو وي چې دوینډوز د پاره ضروری پروګرامونه لکه :

**internat.exe**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**System Tray**

**ScanRegistry**

**TaskMonitor**

**LoadPowerProfile**

په هغوی کار ونه لری

سوال: غواړم د کمپیوټر ذاکره ښه کار وکړی.

ځواب:

1. پر **My Computer** د موږک ښی کښیکاږه.

2. **Properties** وټاکه.

3. **Perance** ته ولاړ سه.

4. **File System** باندی کلیک وکړه.

5. په **Typical Role of this computer** څخه **Network Server** . غوره کړه.

6. **OK** او وروسته **Colse** کمپیوټر ستا سو څخه ریستارټ غواړی ریستارټ یی کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پـــای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**